# سپوږمۍ څه ولیدل؟

یوه جینۍ د لیکلو میز ته ناسته وه. هغې غوښتل چې قیصه ولیکي. فکر یې کاوۀ چې څۀ ولیکم؟ د هغې ارمان دا وۀ چې لیکواله شي او د ماشومانو لپاره قیصې ولیکي، خو په هغه وخت کښې .نۀ پوهېده چې څه ولیکي

هغې د مېز شاته پرانیستې کړکۍ کښې د آسمان په لوري وکتل نو خپله زړه ملګرې سپوږمۍ یې .ولیده . هغه ورته مسکۍ مسکۍ کېدله

سپوږمۍ به اکثر د جینۍ سره غلې غلې خبرې کولې. کله کله به د سپوږمۍ په خبرو د جینۍ په ذهن کښې د نوې قیصې نوے تصور راپورته کېدۀ. هغه ورځ سپوږمۍ دا قیصه کوله چې دزمکې په مخ څه تېر شوي دي؟

سپوږمۍ وویل

پرون مې یو وړوکے کور ولیدۀ چې په انګڼ کښې یې یوه چرګه وه او د هغې یوولس" چرګوړي وو. ټول ډېر خوشحاله ښکاره کېدل. چرګې په خاورو کښې ټونګې وهلې او بچو ئې خواوشا منډې وهلې. په دې کښې یوه وړوکې ښائسته جینۍ هلته راغله. هغې په چرګوړو پسې ".منډې ترړې وهلې. چرګه او د هغې بچوړي وویرېدل

. چرګې شور جوړ کړۀ، او چرګوړي ئې په خپلو وزرو کښې پټ کړل

په شورماشور د جینۍ پلار له کوټې نه راووت او غولي ته راغے، هغه جینۍ ورټله او د لاسه .نیولې ئې د هلته نه بوتله

.دا د پرون خبره وه نن ماښام مې بيا هم هغه انګړ ته سر ورښکاره کړهٔ. چرګې او بچو ئې ارام کاوهٔ . هر خوا چپه

.چپيا وه .په دې کښې هغه جينۍ بيا راغله. هم هغسې لکه پرون

څنګه چې چرګې او چرګوړو هغهٔ وليده نو د ويرې نه يې وزرې رپول او چينګارے شروع .کړهٔ.
کله چې ما دا وليدل نو په دغه ضدي جينۍ راله قهر راغے :په همدغه وخت د جينۍ پلار يو ځل بيا انګړ ته راووتهٔ، په غصه ئې خپلې لور ته ووئيل

"لورې! تهٔ بيا دلته څهٔ له راغلې يې؟"

جينۍ په ژړا شوه او په ژړا کښې ئې ووئيل

ما خو تش د چرګې سره مينه کول غوښتل. او د پرونۍ غلطۍ بخښنه مې ترې غوښتله، خو " ".دا نهٔ پوهيږي

پلار ووئيل

.ښه ده لورې! اوس زه پوهه شوم ! هغهٔ ورتيت شو او د خپلې لور سره ئې مينه وکړه"

هغهٔ ووئيل: 'ته زما ډېره ګرانه لور يې. وګوره، دا چرګه يو حيوان دے، داسې نهٔ پوهيږي، لکه

تهٔ کهٔ ورنزدې شوې نو لا به خفه شي، خو که لږ دلرې نه ورسره خبره وکړې نو په څو

"'ورځو کښې به پوهه شي

د "بينس کرسچن اندرسن" د قصې څخه

ژباړه: ډاکټر اباسين يوسفزے